**د افغانستان اسلامي امارت**

**لوړو زده کړو وزارت**

**وردگ پوهنتون**

**د علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**د محصلانو چارو آمریت**

# د محصلینو د حقوقو، استازیتوب او ګډون لپاره

# منظمه تګلاره

**کال:** **۱۴۰۵ هـ ل**


بسم الله الرحمن الرحيم

**سریزه:**

د لوړو زده کړو بنسټونه د هر هیواد د علمي ، فرهنګي او ټولنیز پرمختګ مهم محوربلل کیږي ، او محصلین د همدې نظام اساسي برخه جوړوي. د محصلینود حقوقو خوندیتوب، د هغوی اغېزمن استازیتوب، په تحصیلي او اداري چارو کې د فعال ګډون تامین نه یوازې د پوهنتون د کیفیت د لوړوالي لامل ګرځي بلکې د سالمې، عادلانه او مسؤلې ټولنې د رامنځته کولو لپاره هم بنسټیز ارزښت لري. له همدې امله اړینه ده چې د محصلینو لپاره داسې منظمه ، روښانه او عادلانه تګلاره موجوده وي چې د هغوی حقوق تضمین کړي او د ګډون مناسبه کړنلاره ورته برابره کړي.

په اسلامي نظام کې د انسان کرامت ، عدالت مشوره او د حقونو رعایت بنسټیز اصول ګڼل کیږي . اسلام د هرفرد حقوق په متوازن ډول تعریف کړي اود ټولنې د هر غړي د مسؤلیتونو ترڅنګ یې حقوق هم مشخص کړي دي .محصلین د یو مهم فکري قشر په توګه حق لري چې د خپلو تحصیلی ، ټولنیزو او اداري مسایلو په اړه نظرڅرګند کړي، خپل استازي وټاکي او د پوهنتون په تصمیم نیونه کې رغنده ونډه واخلي ، له همدې کبله د محصلینو د حقوقو، استازیتوب او ګډون تګلاره باید د اسلامي ارزښتونو، قوانینو او د لوړو زده کړو د اصولو په رڼا کې ترتیب شي، څو د عدالت، شفافیت او حساب ورکونې فضا لا پیاوړې شي.

دا تګلاره د دې لپاره طرحه کیږي چې د محصلینو حقوق په واضح ډول تعریف کړي، د هغوی د استازیتوب رسمي چوکاټ رامنځ ته کړي، او د ګډون موثرې لارې چارې مشخصې کړي ، دا به نه یوازې د محصلینو او ادارې ترمنځ د باور فضا پیاوړې کړي بلکې د ستونزو د حل، د وړاندیزونو د شریکولو او د تصمیم نیونې په بهیر کې به د محصلینو د رول د زیاتوالي سبب هم وګرځي، سربېره پردې د دې تګلارې تطبیق به د نظم او علمي چاپیریال د پیاوړتیا لپاره هم اغیزناک تمام شي، نو په همدې اساس وردګ پوهنتون اړوند د محصلانو چارو آمریت دا تګلاره د یاد پوهنتون محصلینو د حقوقو د خوندیتوب، د هغوی د مشروع استازیتوب د تا مین او د علمي، فکري او ټولنیزو کړنو کې د فعال ګډون د تنظیم په موخه په اوو فصلونو او درویشتو مادو کې ترتیب کړې ده. دغه سند د اسلامي شریعت د اصولو، د هیواد د نافذه قوانینو او د لوړو زده کړو وزارت د تګلارو سره سم برابرشوی دی، څود یو مناسب ، عادلانه او منظم تحصیلي چاپیریال رامنځه کیدو ته زمینه برابره کړي.

په درنښت

د محصلانو چاور آمریت

## لومړی څپرکی

### عمومي احکام

**اوله ماده: هدف**

د دې تګلارې اساسي اهداف په لاندې ډول دي:

۱-د محصلینو د حقوقو خوندیتوب

۲-د محصلینود قانوني استازیتوب تنظیم

۳- د محصلینو د علمي ، فکري او ټولینزو کړنو ملاتړ

۴- د اداري او محصلنیو ترمنځ د اغیزمنواړیکو پیاوړتیا

۵- د اسلامي ارزښتونو پربنسټ د سالم تحصیلي چاپیریال را منځته کول.

**دوهمه ماده: د تطبیق ساحه**

دا تګلاره په وردګ پوهنتون کې د تطبق وړ ده

**درېیمه ماده: اصطلاحات**

- محصل: هغه شخص دی چې په پوهنتون کې په رسمي ډول د یوې عمومي ازموینې له لارې شامل شوی وي.
- استازی: هغه منتخب محصل چې د نورو محصلینو مشري او نماینده ګي کوي.
- اداره: د پوهنتون رهبري او اړوند اداري واحدونو ته شامليږي.

## دوهم فصل

**د محصلینو حقوق:**

**څلورمه ماده : د زده کړې حق**

- هر محصل حق لري چې د باکیفیته او معیاري زده کړو څخه برخمن شي.
- د تدریس بهیر باید د اسلامي اصولواو علمي معیارونو سره سم وي.

**پينځمه ماده: د عدالت او مساواتو حق**

- ټول محصلين د قوم ، ژبې مذهب او سيمې له توپير پرته مساوي حق لري.
- د تبعيض ( توپيري چلند ) هر ډول عمل منع دی.

**شپږمه ماده: د نظر څرګندولو حق**

محصلين کولای شي د اسلامي اصولو او د پوهنتون د مقرراتو په چوکاټ کې خپل نظريات وړاندې کړي.

**اوومه ماد: د معلوماتو د لاسرسي حق**

ټول محصلين حق لري د درسي پروګرامونو، آزموينو او مقرراتو په اړه اړين معلومات ترلاسه کړي.

**آتمه ماده: د شکايت کولو حق**

- محصلين حق لري چې خپل شکايتونه په رسمي ډول وړاندې کړي.
- اداره مکلفه ده چې په عادلانه او شفاف ډول يې وڅيړي او د محصلينو قناعت حاصل کړي.

**نهمه ماده: د اسانتياوو د استفادې حق**

## دريم فصل

**د محصلينو مکلفيتونه:**

**لسمه ماده: د اسلامي اصولو رعايت کول**

محصلين مکلف دي چې د اسلام سپيڅلي شريعت په رڼا کې د اسلام قوانين، اصول او احکام مراعات او پرځان يې تطبيق کړي.

**يولسمه ماده: د اسلامي نظام د اصولو په رڼا کې د پوهنتون د مقرراتو درناوی کول.**

- د پوهنتون ټول قوانين، اصول، مقررات ، هدايات او لوايح د اسلامي شريعت په رڼاکې بايد عملي شي.
- د انضباطي، اخلاقي او علمي اصولو نقض د قانوني اقدام سبب ګرځي.

**دولسمه ماده: علمي رښتینولي**

- محصلین باید له درغلیو، نقل او جعل څخه ډډه وکړي
- علمي امانتداري باید وساتل شي

**دیارلسمه ماده: ټولنیز مسؤلیت**

- محصلین باید د پوهنتون چاپیریال، نظم او پاکوالي ته پام وکړي.
- محصلین باید ټولنیز اخلاق ولري.

## څلورم فصل

**د محصلینو استازیتوب:**

**څوارلسمه ماده: د استازو ټاکنه**

- د محصلینواستازي باید د شفافو، عادلانه او آزادو ټاکنو له لارې وټاکل شي.
- ټاکنې باید د پوهنتون د اړوندو مقرراتو سم ترسره شي.

**پینځه لسمه ماده: د استازو دندې**

- د محصلینو ستونزې او غوښتې ادارې ته رسول.
- د محصلینو او ادارې ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا.
- د محصلینو د حقوقو دفاع.

**شپاړسمه ماده: د استازو شرایط**

- استازی باید ښه اخلاق ولري
- استازی باید علمي وړتیا ولري
- د اسلامي ارزښتونو رعایت وکړي

## پینځم فصل

**د محصلینو ګډون:**

**اووه لسمه ماده: علمي فعالیتونه**

محصلین کولای شي په سمینارونو، کنفرانسونو او علمي پروګرامونو کې برخه واخلي

**آته لسمه ماده: فرهنګي فعالیتونه**

د اسلامي اصولو په چوکاټ کې فرهنګي پروګرامونه تنظیمدای شي.

**نولسمه ماده: ټولنیز فعالیتونه**

محصلین کولای شي په ټولنیزو او خیریه فعالیتونو کې برخه واخلي.

## شپږم فصل

**نظارت او ارزونه:**

**شلمه ماده: نظارت**

د دې تګلارې د تطبیق نظارت د پوهنتون د اړونده څانګو له خوا ترسره کیږي

**یوویشتمه ماده: ارزونه**

- داتګلاره باید په منظم ډول وارزول شي.
- د اړتیا په صورت کې تغیرات پکې راوستل شي.

## اووم فصل

**متفرقه احکام:**

**دوه ویشتمه ماده: د شخړو حل**

د دې تګلارې اړوند شخړې به د پوهنتون د مقرراتو سره سم په عادلانه ډول سره حل کیږي.

**درویشتمه ماده: د تطبیق نیټه**

دا تګلا ره د تائید له نیټې څخه د تطبیق وړ ده.

**پایله:**

دا تګلاره د محصلینو د حقوقو د خوندیتوب، د هغوی د استازیتوب د تنظیم او فعال ګډون د پیاوړتیا لپاره یو مهم سند دی چې د اسلامي نظام له اصولو سره سم د یو منظم، عادلانه او پرمختللي تحصیلي چاپیریال بنسټ ږدي.

**پوهاند دکتور خیبر سیفی**

**د علمي او محصلانو چارو مرستیال**